# د افغانستان په اړه
# د توکیو د پراختیا او همکارۍ کنفرانس
# ته
# د افغانستان د مالیې د وزیر
# ډاکټر حضرت عمر زاخېلوال
# وینا
# د ۲۰۱۲ کال د جولای ۸

بسم الله الرحمن الرحیم

جلالتمآبانو، درنو استازو، آغلو او ښاغلو

دا زما له پاره د ډېرې خوښۍ ځای دی چې په دې تاریخي ناسته کې له تاسې سره د بدلون د لسیزې له پاره د خپل حکومت د ستراتیژیک لرلید «پر ځان بسیاینې پر لور» په اړه خبرې کوم.

اجازه راکړئ چې، له موقع څخه په استفاده، د جاپان له حکومت څخه مننه وکړم چې د دې تاریخ جوړوونکي کنفرانس کوربه شو او د جاپان خلکو ته له افغانستان سره د دوی د سخاوتمندانه او بې بدله مرستو له امله کورودانی ووایم. زه همداراز تاسې ټولو ګډون والو ته زما د هېواد د سولې او پراختیا له پاره ستاسې او ستاسې د ولسونو د ملاتړ په خاطر کورودانی وایم.

تر لسو کالو په ډېره موده کې موږ اوږه په اوږه کاروکړ چې خپلې ګډې موخې، پیاوړي، د سولې خاوند او باثباته افغانستان، ته تحقق ورکړو. په پایله کې، لکه مېرمن اوګاتا چې وویل، افغانستان له یو نړېدلي هېواد څخه پر یو نوي دیموکراتیک هېواد بدل شو چې اقتصاد یې خوزنده دی، ملي امنیتي ځواکونه یې مسلکي دي او د خلکو د ژوند سطح یې لوړه شوې ده. خو موږ دا هم باید ومنو چې د تېرولاسته راوړنو د تحکیم او پایداره کولو له پاره، چې زموږ پر اقتصاد او زموږ پر خلکو پایېدونکی اغیز ولری او پرځان بسیاینې ته زموږ د لېوالتیا له پاره لار هواره کړي لازمه ده چې د پراختیایي هڅو واګې د افغانانو په لاس کې وي. د همدې غوښتنې پر بنسټ څه باندې دوه کاله وړاندې موږ د کابل پروسه پیل کړه چې په افغانستان کې د مرستو د پروسې مشري او ملکیت افغانانو ته وسپارل شي. د دې هڅو پایله د دوه ویشتو د لومړیتوب درلودونکو پروګرامونو جوړېدل وو.

د خپلو لومړیتوب درلودونکو ملي پروګرامونو پر بنسټ موږ خپله ستراتیژی داسې جوړه کړه چې خپلو موخو ته د رسېدو له پاره مشخص پلانونه لرو.

دا ستراتیژي چې د کنفرانس له پاره زموږ «پر ځان بسیاینې پر لور» اساسي سند کې تصریح شوې ده په خورا زیار له کورنیو او بهرنیو کاري شرکانو سره په همغږۍ کې جوړه شوې ده. نتیجه د ودې یوه ګړندۍ، معقوله او پایښت لرونکې ستراتیژي ده چې پر ډېرېدونکي کرنیز تولید، پیاوړي کلیوالي اقتصاد، پرمختلونکې بشري پانګې، د دوامداره اقتصادي ودې له پاره د زېربناوو پر جوړولو، زموږ د ملکي خدمتونو د موسسو د اغیزمنتیا پر ډېرېدلو، د فساد په کمولو او د قانون پر حاکمیت ولاړه ده.

جلالتمآبانو، اغلو او ښاغلو،

ښه حکومتولي زموږ د ودې د ستراتیژۍ په زړه کې واقع ده. دا هغه بنسټ دی چې پرته له هغه موږ نه شو کولای چې د خپلو ژمنو د پلي کولو په لار کې د پام وړ پرمختګ وکړو. د افغانستان ولسمشر، جلالتمآب حامد کرزي په خپله وینا کې دا ژمنه له سره نوې کړه چې دیموکراتیکه حکومتولي به د رنو، ازادو، د باور وړ ټاکنو، د قانون د واکنۍ او د فساد

پر ضد د ریښتیني مبارزې پر مټ  پیاوړې کوي. سربېره پر دې، موږ خپلواکي او اغیزمنې قضایي قوې، د عامه مالیاتو راټه مدیریت او زموږ په اساسي قانون کې تسجیل شوو بشري حقونو او ازادیو ته ژمن یو.
زموږ د پلانونو یوه برخه دا هم ده چې موږ به په ملي او ولایتي کچه د ښې حکومتولۍ د ټینګولو لـه پاره خپل قانوني چوکاټ پراخه کړو او خپل قوانین بـه لا دقیق کړو. پـه دې ډول بـه موږ وکړای شو چې پـه مالي تصمیم نیولو کـې د ولایت او ولسوالۍ په کچه برخه واخلو.
موږ به د روڼتیا د ډېرولو له پاره د خپل مالي مدیریت د سیستمونو جوړولو تـه دوام ورکړو. پـه دې اړه موږ تمـه لرو چې د عامـه لګښتونو او مـالي حسـاب ورکـوني د ارزونـو او د پرانسـتي بـودجې د انـډېکس پـه مرسـته انـدازه کېـدونکي پرمختګونه به مو لا زیات وي. موږ لا وار دمخه د خپلو لګښتونو د کنټرول او د خپلو عوایدو د ډېرولو پـه موخـه خـورا جدي تدابیر نیولي دي او ژمنه مو کړې ده چې زموږ کورني عواید چې اوس د کورني ناخالص تولید ٪۱۱ تشکیلوي تر ۲۰۱۶ کال پورې ٪۱۵ ته لوړ کړو. موږ نیت لرو چې د نړۍوال وجهي صندوق او نړۍوال بانـک سره د خپل عامـه مالي مدیریت او د خپل بانکي سیستم د ساتنې او پاکۍ له پاره خپلو  همکاریو ته دوام ورکړو.
په دې ارتباط، موږ غواړو چې د نړۍوال وجهي صندوق له سپارښتنو سره سم د کابلبانـک ستونزه، هر څومره ژر چې کېدای شي، حل کړو.
اغلو او ښاغلو،
خصوصـي سکتور کولای شي چې د بدلون یوه وسیله او د ګټو پراختیایي لاسته راوړنـو محـرک واوسـي او پـه دې توګـه پـه کـورني ناخـالص تولیـد کـې دوامـداره زیاتېـدل، د کـاري فرصـتونو ډېـرول، د فقـر کمـول، توکـو او خـدمتونو تـه ښـه لاسرسـی او سـرچینو پـه اداره کـې د طبیعـي رقابـت لامـل شـي. حکومـت د تسـهیلوونکي، قانونمنـد کـوونکي، سیاسـت جوړوونکي په حیث په کلکه ژمن دی چې چې پـه افغانسـتان کـې د خصوصـي سـکتور د بریـالیتوب لـه پـاره وړ بنسـټونه کښېږدي.
د استخراجي صنایعو په اړه، حکومت یو وار بیا پر خپله ژمنتیا ټینګار کوي چې د کـانونو او  هایدروکاربنو پـه سرچینو کې د پـانګوني چاپېریـال لا ښـه کـړي، د پایښـدونکي پراختیـا لـه اصـولو سره سم، په راتـه او حسـاب ورکـوونکي ډول  د حکومتولۍ او د استخراجي صنعتونو د اداري له پاره خپلې هڅې رواني وساتي. په دې ارتباط دا هم د یـادولو وړ ده چې موږ لا وار دمخه د استخراجي صنایعو د شفافیت له نوښت سره یوځای شوي یو.
د ننني کنفرانس له پاره موږ خپلې دغه ژمنې د متقابلې حساب ورکوني پـه سند کـې ځـای کـړې دي او کنفرانس تـه یـې د تایید له پاره وړاندې کوو.
اغلو او ښاغلو،
د راتلونکي له پاره د پلان جوړولو په ترڅ کې باید دا واقعیت و منو چې که موږ هرڅومره خوشبینه سناریو  هم پـه نظـر کې ونیسو په نېږدې راتلونکې کې افغانستان لـه مـالي لحاظـه پـر ځـان نـه شـي بسیا کېدای. د نړۍوال بانـک او زمـوږ د حکومت د اټکلونو پر بنسټ به تر ۲۰۱۷ کال پورې افغانستان هرکال د څلور میلیارده ډالرو مالي تشې سره مخ وي. دا تشه به ورووړو د بدلون په لسیزه کې (۲۰۱۵ ــ ۲۰۲۴) په تدریجي ډول کمېږي.
تېر کال په بن کې تاسي دا واقعیت منلی و او ژمنه مو کړې وه چې د افغانستان د بودجې تشـه بـه د بـدلون پـه لسیزه کـې ډکوئ، اوس چې دلته راټول شوي یاست چې خپلو دغو ژمنو تـه لا مشخصـه بڼـه ورکـړئ دا بـه د افغانسـتان د خلکـو لـه پاره یو ډېر پیاوړی پیغام وي چې ستاسي له سخاوتمندانه مرستو ، ژمن ملاتړ او پیاوړې همکـارۍ سره بـه وکـړای شـي چې د سوکالۍ، پرځان بسیاینې او روښانه راتلونکې پر لور  خپل پیل شوی سفر ته په کوټلو ګامونو دوام ورکړي.
جلالتمآبانو، اغلو او ښاغلو،
له یوه پر مرستو ولاړ هېواد څخه پر ځان متکي هېواد بانـدې د افغانستان بدلول لـه نړۍوالـې ټولنـې څخـه لـه افغانسـتان سره د داسې مرستو غوښتونکي ده چې پرځان بسیاینې له پاره لار هواره کړي.
دغه بدلون ډېر ناوخته راغی. تر اوسه لا هم د نړۍوالو مرستو پـه سلو کـې تر اویـاوو ډېـره برخـه لـه ملـي بـودجې بهـر لګول کېږي او یوازې پینځه په سلو کې یې ریښتیا هم د افغانستان پـه واک کـې دي. دوامداره، تـدریجي بدلونونـه نـه شـي کولای چې له موږ سره زموږ د ګډو موخو په تر لاسه کولو کې مرسته نه شي کولای، د دې له پاره د مرستو د سپارلو په پروسه کې کوټلي بدلون ته اړتیا ده.
دوستانو،
زه له ولسمشر سره خپل غږ یوځای کوم او لـه خپلو همکـارانو څخـه چې دلتـه راټـول شـوي دي غـواړم چـې د افغانسـتان خلکو ته ډاډ ورکړي چې هغه مرستي چې تاسي یې له افغانستان سره کـوئ پـه داسـي شـکل وي چـې د اوږدې مـودې لـه پاره موږ پر خپل ځان متکي کړي.

د متقابلې حساب ورکونې د يو کليدي اصل په توګه موږ د هغو ژمنو نوې کېدل غواړو چې په سلو کې پنځوس مرستې به د افغانستان د ملي بودجې له لارې لګول کېږي او په سلو کې اتيا مرستې به زموږ د لومړيتوب لرونکو ملي پروګرامونو سره په همغږۍ کې لګول کېږي.

اغلو او ښاغلو،

په ستونزمنو شرايطو کې، له ننګونو سره سره، په تېرو لسو کلونو کې زموږ ګډې لاسته راوړنې د \ستايلو وړ دي. دا لاسته راوړنې، زموږ د همکارانو د دوامدار کلک ملاتړ تر څنګه، ما ته دا باور راکوي چې موږ به پر خپل ځان د بسياينې خوب رينښتيا کړو. موږ به په ګډه په دې بريالي شو چې د افغانستان خلکو ته روغ، سوکاله، له سولې ډک او له اندېښنو پاک ژوند تامين کړو.

زه له خپلو ټولو نړۍوالو همکارانو څخه مننه کوم چې په ښه زړه او ډاډ سره زموږ ملاتړ کوي. زه له تاسې څخه مننه کوم چې د افغانستان پر امکاناتو باور لرئ او دا دمنئ چې افغانستان به يوځل بيا د يوې روښانه راتلونکې لور ته سترګې ورواړوي.

مننه